# په افغانستان کې د حنفي فقهاؤ لنډه تاریخچه

نامزد پوهنیارعبدالسمیع سعید، تعلیمات اسلامي څانګه، شرعیاتو پوهنځی، لغمان پوهنتون

**لنډیز**

د فقهې علم یو له اړینو علومو څخه دی چې په مختلفو پړاوونو کې د نړۍ ګوټ ګوټ ته رسېدلی دی چې یو له هغې څخه افغانستان دی، یاد علم د افغانستان په مختلفو سیمو کې د وخت په تېرېدلو سره رابرسېره او ډېر شمېر علماؤ ورته خدمت کړی دی، په دې برخه کې د بلخ، هرات، غزني او کابل علماء کرامو تر نورو ډېر خدمت کړی دی، د افغانستان علماؤ د فقه په برخه کې لیکنې هم ترسره کړي دي او داسې آثار یې ټولنې ته پرېښودلي دي چې په برکت یې افغاني ټولنه د یاد علم څخه مستفیده شوې ده. په افغانستان کې د حنفي مذهب فکر ډېر خپور او نشر شو له همدې امله په افغاني ټولنه کې د یاد مذهب فقهاء او علماء هم رامنځته او په دې برخه کې یې کار وکړ. د افغانستان په مختلفو ولایتونو او سیمو کې د حنفي مذهب پیروان تېر شوي دي او همدې ته په کتلو سره په یادو سیمو کې د حنفي مذهب علماء او فقهاء را برسېره شوه او دې مذهب ته یې ډېر کار وکړ، په دې مقاله کې مونږ کوښښ کړی دی چې د یادو فقهاؤ تاریخچه او پېژندنه روښانه کړو.

**کلیدي کلیمې:** فقه، حنفي مذهب، د فقهې عالمان، د فقهې زده کړه، د فقهې عالمانو مخینه.

**سریزه**

افغانستان ته د اسلام د راتګ سره سم په فقهي ډګر کې پرمختګونه رامنځته شوه، ددې پرمختګونو د جملې څخه یو پرمختګ د فقه د مختلفو پوهانو پیدا کېدل دي، سربېره پر

دې چې په ټولنه کې مختلفو مذاهبو شتون لاره خو حنفي مذهب د أساس او لاربنود په شکل سره پېژندل کېده، له همدې امله ډېری علماء د حنفي مذهب مقلدین وو.

چا چې د أفغانستان جغرافیه د سامانیانو، سلجوقیانو او غزنویانو لوري ته منسوبه کړې هغوی په دې آند دي چې په دې وختونو کې د حنفي مذهب پیروي عامه وه، له همدې سیاسي فرصته په استفادې د حنفي مذهب پیروانو دا مذهب په دې جغرافیه کې خپور کړ. (القرشي، ۲۰۱۳ م ص ۴۸).

د همدې فرصت څخه په استفادې سره بلخ، هرات، غزني او یو شمېر نور ښارونه د حنفي مذهب د انتشار ستر مرکزونه وګرځېدل.

د بلخ ښار د فقه د زده کړې ستر مرکز وګرځېده، او د غوره درسي خدماتو په وړاندې کولو سره یاد ښار ته د دار الفقهاء لقب انتخاب شو، همدا راز بلخ د حنفي مذهب له سترو مرکزونو څخه وګرځېده، همدا راز د بلخ یوه بله ځانګړتیا داده چې په حنفي فقه کې یې ډېر فارغان ټولنې ته وړاندې کړه، له همدې أمله په ټولنه کې بلخ د حنفي مذهب له سترو مرکزونو څخه یو مرکز وګرځېده، همدا راز بلخ د حنفي مذهب د رائج کېدلو لپاره خپلې هڅې جاري وساتلې او له مختلفو قضایاوو څخه په استفادې یې خلک دې ته واداره کړه تر څو ددې مذهب پیروي وکړي(المدرس ص:۲۱۱ـ ۱۹۷۹م).

په دې ښار کې د حنفي مذهب د خپرېدلو سره سم د نورو مذاهبو فعالیتونه د نشت سره حساب شوه، لامل یې دا وو چې حنفي فقهاؤ د خپل مذهب مفاهیم او مسائل په مفصل ډول روښانه کړي او تر هر چا یې رسولي وو (محمد بن داؤد ص ۴۴ـ ۲۰۰۹).

په ځینې روایاتو کې راغلي دي چې د بلخ څه علماء او شاګردان د علم د طلب په ارادې د امام أبوحنیفة رحمه الله خواته تللي وو(واعظي بلخي، ص ۲۱).

ددې سربېره د أفغانستان په مختلفو سيمو کې د حنفي فقه علماء زيږېدلي او را لوی شوي دي.

په دې مقاله کې مونږ د هغه علماء کرامو په رابطه معلومات ذکر کوو چې د هغوی په تړاو په مستندو کتابونو کې ليکل موجود وي او زمونږ رسيدګي ورته شوې وي.

زمونږ موخه داده چې يواځې هغه علماء تر بحث لاندې ونيسو چې د طبقاتو په کتابونو کې يې په اړه معلومات موجود وي، کنه هغه علماء چې نوم ورکي دي او يا يې په اړه کم ليکل شوي د عباسي خلافت پر مهال يې شمېر تر ۱۲۰۰ تنو اوښت (واعظي بلخي، ص ۲۱).

## د څېړنې ستونزه

ددې موضوع په څېړنه کې زه د يو لړ ستونزو سره مخ شوم، لکه: د مأخذونو کمبود، په ياده برخه کې د مستقلو ليکنو کمبود، د فقهاؤ په اړه نيمګړي معلومات.

په دې مقالې سره به په ټولنې کې دېرې ستونزې حل او د حنفي فقهاؤ په اړه به مفصله ليکنه زياته شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. په افغانستان کې د کوم مذهب فقه ډېره رائج ده؟
۲. په افغانستان کې د حنفي مذهب فقهاء او علماء څوک دي؟
۳. په افغانستان کې حنفي فقهاء کله رامنځته شوه؟
۴. په افغانستان کې د فقه علم څه ډول خپرېږي؟

## د څېړنې موخې

لوستونکي به په دې وتوانيږي چې:

۱. أفغاني فقهاء وپېژني.
۲. د أفغانستان علمي او أدبي قدامت وپېژني.
۳. د فقه ارزښت او غوره والی وپېژني.
۴. ددې سترو خلکو په رابطه لا څېړنې وکړي.
۵. د افغاني فقهاؤ پېژندنه.

## د څېړنې تګلاره

ما د خپل تحقيق په بهير کې دا تګلاره غوره کړې ده چې لومړی مې د حنفي فقهاؤ په تړاو لومړي لاس معلومات را ټول کړي دي، بيا مې د حوالو په ورکولو سره د پښتو ژبې د اصولو او ګرامر موافق ژباړلي دي.

د هرې وينا، حوالې او جملې ژباړه تر ډېره مفهومي کړې ده، تر ډېره مې کوښښ کړی دی چې د اصلي متن سره توپير ونه کړي.

د کومو فقهاؤ د وفات نېټې چې موندل کېدلې هغه مې ليکلي دي او کومې چې يې نه موندل کېدې او يا هم په اړه يې مختلف نظرونه وو ترې تېر شوی يم.

د هر ولايت فقهاء مې د هجرت کلونو د مخکې والي په اساس ليکلي دي، مثلا که د بلخ په فقهاؤ کې لومړی مشهور فقيه ذکر شوی وي او لسم غير مشهور نو لامل به يې دا وي چې لومړی هغه يې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته په زمانه کې نيږدې وو.

د څېړنې موادو په برخه کې مې د انټرنيټي سايټونو، مختلف عربي کتابونو او المکتبة الشاملې څخه استفاده کړې ده.

**د فقهې پېژندنه**

په عربي ژبه کې فقه د هوښيارتيا، ځيرکتيا او ژورې پوهې په معنی سره راځي، او په شرعي اصطلاح کې فقه عبارت ده له: هو العلم بالأحکام الشرعية العملية المکتسبة من أدلتها التفصيلية( الجرجاني ۱۹۸۸ م ص: ۲۱۶).

ژباړه: فقه د هغو شرعي أحکامو او قوانينو ټولګه ده چې د تفصيلي دلائلو څخه په لاس راغلې وي.

**د فقهې علم مخينه**

په اوومه ميلادي پېړۍ کې افغانستان ته د اسلام وړانګې راورسېدلې او ورسره سم د نورو علومو سربېره د فقهې علم پيل او نشر شو

د عباسيانو په دور کې د بلخ په هر کلي کې مسجد و، همدا راز هر ځای کې مفتي، قاضي او په ديني أحکامو پوه خلك موجود و، د بلخ په ښار کې د مساجدو او ديني مدارسو تعداد تر (۱۸۴۸) رسېده، همدا راز ويل کيږي چې ددې سربېره (۴۰۰) مدرسې وې، (۱۲۰۰) تنه مفتيان وو، له همدې أمله د بلخ ښار ته قبة الاسلام، دارالفقهاء او دارالفقه ويل کېده(محمد بن داؤد ۲۰۰۹ م. ص: ۲۱).

همدا راز د غوريانو د واکمنۍ پر مهال د هرات په ښار کې (۳۵۹) فعالې مدرسې وې چې په مختلفو سيمو کې يې فعاليت کاوه، ددې سربېره وروسته بيا په نورو سيمو کې هم مختلفې مدرسې رامنځته شوې(الجرجاني. ۱۹۶۴م ـ ص: ۳۸۷ –۳۸۸).

د لومړي ځل لپاره کابل پوهنتون کې د شرعیاتو پوهنځی په کال (۱۹۵۱) م کې تاسیس شو، او ددې پوهنتون ډېره په کال ۱۹۴۶ م کال کې کېښودل شوه، د شرعیاتو په پوهنځي کې د فقهې علم زده کېدلو وروسته له دې چې په افغانستان باندې روسي لښکرو یرغل راوړ، د افغانسان اکثره خلك پاکستان او ایران ته په هجرت کولو مجبور شوه، چې ددې ټولو تعداد تر پنځه میلونو خلکو ته رسېده، چې هلته بیا اکثره خلکو خپل بچیان مدارسو ته د تعلیم کولو لپاره واستول، چې اکثریت مدارس یې د زده کړې او استوګنې له پلوه وړیا و، په دې مدرسو کې د فقهې علومو ډېر تدریس کېده.

نن ورځ په افغانستان کې د غیر رسمي مدرسو سربېره رسمي مدرسې هم ایجاد شوي چې د فقه تعلیم پکې جاري دی، ابتدائي مدرسې، ثانوي مدرسې او متوسطه مدرسې د ټیټو زده کړو مراکز دي، او د شرعیاتو قانون پوهنځي د لوړو زده کړو څخه شمېرل کیږي.

د مساجدو امامان او داعیان په خپلو سیمو کې د کلیو ماشومانو ته اسلامي تعلیم ښیي او هغوی د فقهې په علم کې تر لوړو مرتبو رسوي.

د پورته بحث ټوله خلاصه داده چې په مختلفو پړاوونو سره د فقهې علم په افغانستان کې نشر شوی دی.

۱. د حنفي فقهې هغه علماء کرام چې د أفغانستان په مختلفو سیمو کې را لوی شوي دي:

دا باوري خبره ده چې د افغانستان په حدودو کې د تعلیم او تدریس په نتیجه کې ډېرشمېر علماء رامنځته شوه، ددې لپاره چې زمونږ بحث ډېر اوږد نشي یواځې د حنفي فقهې علماؤ یادونه کوو.

۲. په بلخ کې حنفي فقهاء

۱ـ مقاتل بن حیان(وفات:۱۳۵ هـ): دا مجتهد عالم او مفسر و، چې د امام أبوحنیفة رحمه الله درسي حلقو ته یې حاضري ورکړې وه، د یو څه وخت لپاره د بخارا قاضي پاتې شوی دی، همدا راز د بلخ والي په حیث یې دنده هم پرمخ وړې ده، د هجرت په (۱۳۵) کال په کابل کې وفات شوی دی (ابن حبان ۱۳۹۳ هـ. ج: ۷ ص: ۵۰۸).

۲ـ أبو عبیدة بن اسماعیل بن سلیمان بن داؤد بن أحمد بن أبي هریرة، نوموړی په بلخ کې پیدا شوی دی، عالم، مجتهد، محدث او لیکوال و، ډېر شمېر لیکنې یې کړې دي.

۳ـ مقاتل بن سلیمان: نوموړی په اصل کې د بلخ وو، د ډېرو صفاتو څښتن و، نوموړی مفسر، محدث او فقیه و، نوموړي په ډېرو برخو کې کتابونه لیکي، د تفسیر کبیر په څېر ستر کتاب یې لیکلی دی، نوموړی چې په بلخ کې و د تفسیر د علم تدریس یې کاوه، د هجرت په (۱۵۰) کال په بصره کې وفات شوی دی.

۴ـ أبو علي عمر بن میمون: نوموړی د بلخ په قاضي باندې مشهور و، بغداد ته د فقه د زده کړې لپاره د امام أبوحنیفة رحمه الله خوا ته تللی وو، دا یو د هغه کسانو له جملې څخه وو چې امام صاحب ورته ډېر ارزښت ورکولو، وروسته له دې چې هلته یې علم ترلاسه کړ، بیا په بلخ کې شل کاله د قاضي په حیث پاتې شو(دارالغرب الاسلامي ۲۰۰۲ م. ص: ۲۸۱).

۵ـ یعقوب القاري: نوموړی ستر فقیه او زاهد شخصیت وو، نوموړی د فقهي مسائلو حافظ او صوفي انسان و، د هجرت په (۱۶۳) کال وفات شوی دی(محمد بن داؤد ۲۰۰۹ م. ص: ۱۶۲).

۶ـ حاتم الأصم: خپل نوم یې حاتم، پلار یې علوان او د یوسف زاهد الأصم لمسی دی، نوموړی فقیه او صوفي شخصیت و، د هجرت په (۱۶۸) کال وفات شوی دی.

۷ـ سلم بن سالم البلخي: نوموړی فقهي عالم او صوفي و، د هجرت په (۱۷۴) کال په مکه کې وفات شوی دی.

۸ـ عبدالله بن عمر بن ميمون البلخي: نوموړی عارف شخص و، همدا راز ستر فقيه او لوی عالم و(محمد بن داؤد ۲۰۰۹ م. ص: ۱۶۲).

۹ـ محمد بن مزاحم بن عبدالله بن سلام البلخي: نوموړی فقيه عالم، د هجرت په( ۱۹۰) کال وفات شوی دی.

۱۰ـ شقيق بلخي: نوموړی يو له هغه فقهاؤ د جملې څخه و چې د امام صاحب مجلس کې حاضر شوی و او له هغه يې علم حاصل کړی و، همدا راز د امام أبو يوسف څخه يې هم د فقه علم ترلاسه کړی و، نوموړی په فقهي علم او تصوف کې خورا مشهور و، د هجرت په (۱۹۴) کال وفات شوی دی.

۱۱ـ مر بن هارون البلخي: نوموړي د فقه علم ترلاسه کړی و، له همدې امله يې د إفتاء چارې مخته وړلې، هغه د ډېر علميت له امله په بحر العلوم سره مشهور و، ځکه په مختلفو علومو پوه او د احاديثو متخصص پاتې شوی دی، د هجرت په (۱۹۶) کال وفات شوی دی.

۱۲ـ أبو مطيع الحکم بن عبدالله البلخي: نوموړی د هغه شاګردانو له جملې څخه و چې د امام صاحب په درسي حلقو کې يې ګډون کاوه، نوموړی د فقه أکبر او فقه الأبسط کتابونو راوي پاتې شوی دی، نوموړی په حنفي فقه کې لوی مقام لري او په بلخ کې يې د قضاء دنده ترسره کړې ده، د هجرت په (۱۹۹) کال وفات شوی دی(أبو يعلی ۱۹۸۹ هـ ص: ۹۲۹).

## په هرات کې حنفي فقهاء

د هرات ښار يو له پراخه ښارونو څخه شمېرل کېږي، دا ښار د اسلام د راتګ څخه وروسته د علم او ثقافت ستر مرکز وګرځېده، دا چې په دې سيمه کې حنفي مذهب رائج و له همدې امله پکې حنفي علماء او فقهاء ورزوزل شوه، دلته به د همدې علماوو او فقهاوو په باب معلومات ذکر کړو:

۱ـ ابراهيم بن طهمان بشاني الهروي: نوموړي وروسته له دې چې د فقه علم ترلاسه کړ، د نوموړي روايتونه په صحاح سته کتابونه کې موندل کېږي، مکې ته لاړ همالته يې استوګنه غوره کړه چې بيا همالته د هجرت په(۱۶۳) کال وفات هم شو.

۲ـ أبوجعفر فرات بن أبي جعفر الفقيه الهروي: نوموړی د خپل وخت ستر عالم او فقيه و، د امام ابو يوسف او امام محمد بن حسن الشيباني څخه يې روايتونه را نقل کړي دي، د هجرت په (۲۳۶) کال وفات شوی دی.

۳ـ أبو القاسم الفضل بن يحيى بن سعيد بن يسار الکناني: نوموړی د هرات له سترو علماء کرامو د جملې څخه و، د يوې څه مودې لپاره په هرات کې د قاضي په حيث پاتې شوی دی، د هجرت په (۴۴۳) کال وفات شوی دی(القرشي ص: ۴۰۵).

۴ـ منصور بن اسماعيل بن أحمد بن المظفر القاضي الهروي: نوموړی ستر عالم و، له همدې امله يې په هرات کې سترې دندې اجراء کړي دي، لکه قضاء، امامت او خطابت، د هجرت په (۴۵۵) کال وفات شوی دی.

۵ـ أبو زيد محمد بن ابراهيم بن أسد القاضي الهروي: نوموړی ستر فقيه و، په هرات کې د قاضي او مفتي په حيث پاتې شوی دی، د هجرت په (۴۶۶) کال وفات شوی دی.

۶ـ أبو العلاء سعيد بن يسار بن يحيى الهروي: نوموړی د فقه ستر عالم و، د وخت قاضي القضات هم پاتې شوی دی، د ډېر علميت له امله خلکو ورته د جمال الاسلام لقب ورکړ، د هجرت په (۴۹۴) کال وفات شوی دی.

۷ـ ربيعة بن أسد بن أحمد بن محمد الهروي: نوموړی د هرات ستر عالم و، قضا يې هم ترسره کړې ده.

۸ـ أبو صعد محمد بن نصر بن منصور الهروي: د هرات د بشکان سيمې دی، د حنفي مذهب د مشرانو علماؤ د جملې څخه و، د عباسيانو د خلافت پر مهال د په بغداد کې دقاضي په حيث مقرر شو، نوموړی په أقضی القضات لقب سره مشهور و، په همدان سيمه کې په شهادت رسېدلی دی.

۹ـ عبدالمجيد بن اسماعيل بن محمد أبو القيس الهروي: نوموړی په هرات کې پيدا شوی دی، او د ما وراء النهر په سيمه کې د مشهورو علماؤ کرامو له جملې څخه و، نوموړی په علميت او فقاهت کې د ستر شهرت څښتن و، او مشهورو علماؤ ترې زده کړه کړې ده، د هجرت په(۵۳۷) کال وفات شوی دی.

۱۰ـ أبو الفضل محمد بن عمر الهروي: د فقه علم يې په مرو او بخارا کې زده کړی دی، په دې ډګر کې د ستر شهرت څښتن شو، تر دې چې د هرات فقهاؤ به په علمي مسائلو کې ده ته رجوع کوله( الذهبي ص: ۲۱۱).

۱۱ـ أبو الفتح نصر بن يسار بن سعيد الهروي: د حنفي فقه ستر عالم او قاضي پاتې شوی دی، د هجرت په (۵۷۲) کال وفات شوی دی.

۱۲ـ ملا مسکين، معين الدين محمد بن عبدالله الهروي: نوموړی د حنفي فقه ستر عالم و، په سمرقند کې د څه مودې لپاره پاتې شوی دی، د کنزالدقائق په کتاب يې يوه شرح هم

لیکلې چې په شرح ملا مسکین سره شهرت لري، د هجرت په(۹۵۴) کال وفات شوی دی.

۱۳ـ علي القاري ملا علي بن السلطان محمد القاري الهروي: نوموړی په هرات کې پیدا شوی دی، بیا یې مکې ته هجرت کړی او همالته وفات شوی دی، نوموړی مشهور فقهي عالم دی، په ډېرو برخو کې یې کتابونه لیکلي دي، لکه په فقه، حدیث، تفسیر، علم الکلام وغیره کې، نوموړی په حنفي مذهب کې د خورا ډېر شهرت څښتن دی، د هجرت په (۱۰۱۴) کال وفات شوی دی(خلاصة الأثر في أعیان القرن الحادي عشر ۱۱۱۱ هـ ص ۱۸۵).

**په غزني کې د حنفي فقه علماء:**

۱ـ محمود الغزنوي: نوموړی د غزني حاکم پاچې شوی دی، خپل نوم یې محمود او د سبکتګین زوی دی، نوموړی د حنفي فقه عالم دی، د حنفي فقه د قضایاوو په تړاو یې یو کتاب لیکلی چې تر( ۶) زره پورې قضیې پکې ذکر شوي دي، د هجرت په (۴۲۱) کال وفات شوی دی.

۲ـ أبو المعالي عبدالرب بن منصور بن اسماعیل بن ابراهیم الغزنوي: نوموړی مشهور عالم او فقیه و، د مختصر قدوري په کتاب یې یوه شرح ولیکله او نوم یې ورته د ملتمس الاخوان انتخاب کړ، نوموړی د هجرت په (۵۰۰) کال وفات شوی دی.

۳ـ أبو یعقوب اسماعیل بن عبدالرحمن اللمغاني: نوموړی د حنفي فقه ستر عالم و، او په علمي کورنۍ کې را لوی شوی دی، د هجرت په (۵۳۶) کال وفات شوی دی.

۴ـ أبو المکارم: نوموړی د حنفي فقهاؤ د جملې څخه وو، مشهور خطیب او غوره مفسر وو، د هجرت په (۵۵۲) کال وفات شوی دی(الذهبي ص: ۳۳۹).

۵ـ أبو عبدالله محمد بن عبدالرحمان اللمغاني: نوموړی د مشهورو حنفي فقهاؤ د جملې څخه و، د علم د حصول څخه وروسته بغداد ته لاړ او همالته یې استوګنه غوره کړه، د هجرت په(۵۵۴) کال وفات او د امام صاحب ترڅنګ په کوفه کې ښخ شو.

۶ـ محمد الحوراني: نوموړی ستر فقیه و، د علم د حصول وروسته خپل نیکه سره بیت المقدس ته ولاړ او همالته پاتې شوه، د هجرت په(۵۶۴) کال په دمشق کې وفات شو.

۷ـ نصر الله بن عبدالرحمن اللمغاني: نوموړی مشهور فقیه، ماهر مناظر او عالم و، د هجرت په(۵۷۵) کال وفات شوی دی.

۸ـ غالي بن ابراهیم بن اسماعیل الغزنوي: په حلب کې یې د حنفي فقه زده کړه وکړه، ډېر ألقاب یې وګټل کله: ناصر الدین، تاج الشریعة او نظام الاسلام، نوموړی د فقه، اصول الفقه، عربي ژبې، تفسیر او یو شمېر نورو علومو استاد وګرځېده، ډېر شمېر لیکلي آثار یې هم شته، د هجرت په (۵۹۹)کال وفات شوی دی.

۹ـ أحمد بن محمد محمود بن سعید الغزنوي: د فقه علم یې د امام کاساني صیب څخه زده کړی دی، همدا راز ده هم ډېرو خلکو ته د فقه علم ور زده کړی دی، نوموړی فقیه او اصولي عالم وو.

۱۰ـ الامام أبو الفضل محمد بن یوسف الغزنوي: نوموړی په اصل کې د غزني و، حنفي فقه یې په قاهره کې زده کړې وه، نوموړی په قاهره کې په(۵۹۹) کال وفات شوی دی.

۱۱ـ جمال الدین أحمد بن محمد الغزنوي: نوموړی د حنفي فقهاؤ د جملې څخه و، د قضاء دنده یې هم اجراء کړې ده، یو کتاب یې لیکلی د الحاوي القدسي په نامه.

۱۲ـ القاضي أبو محمد عبدالسلام بن اسماعیل: نوموړی ستر فقیه او عالم و، د فقه علم یې له خپل پلار اسماعیل بن یعقوب څخه ترلاسه کړی و، د هجرت په (۶۰۵)کال وفات شوی دی.

۱۳ـ یوسف بن اسماعیل بن عبدالرحمن: نوموړی په حنفي فقه او علم الکلام کې مشهور عالم و، د هجرت په (۶۰۶) کال وفات شوی دی(القرشي ص: ۲۲۵).

## په کابل کې حنفي فقهاء

د پورتنیو ولایتونو په څېر کابل هم یو له هغو ولایتونو څخه و چې پکې د حنفي فقه علماء را لوی شوي او بیا یې ټولنې ته خدمت کړی دی، مونږ به په دې برخه کې د همدغو علماؤ یادونه وکړو:

۱ـ أبو عبدالله مکحول بن شهراب الکابولي: نوموړی ستر فقیه او لوی عالم و، له همدې امله یې ډېر شمېر القاب ترلاسه کړي و، لکه: د دمشق امام، د أحادیثو حافظ، او الفقیه العالي، نوموړی د تابعینو د جملې څخه و، نوموړی په کابل کې پیدا شوی دی، بیا په جنګ کې غلام شوی او عبدالرحمن بن سمرة رضي الله عنه آزاد کړ، نوموړي ډېر علمي سفرونه کړي دي، لکه مدینې، عراق او مصر ته تللی دی، او په پای کې د هجرت په (۱۱۲) کال په دمشق کې وفات شوی دی.

۲ـ أبو عبدالله نافع: نوموړی مشهور فقیه او محدث و، په مدینه منوره کې د تابعینو له مخورو څخه شمېرل کېده، کله چې کابل فتحه شو نوموړی پکې أسیر شو، او مدینې منورې ته د غلام په حیث یوړل شو، او هلته د عبدالله بن عمر غلام پاتې شو، د هجرت په (۱۲۰) کال وفات شوی دی.

۳ـ الامام أبي حنيفة نعمان بن ثابت بن زوطي: د روایاتو په اساس ویل کیږي چې د نوموړي نیکه د کابل و، وروسته بیا دوی بغداد ته لاړه او په کوفه کې امام صاحب پیدا شوی دی، امام صاحب د فقه په برخه کې شهرت ته اړتیا نلري، د نوموړي په اجتهاد، فقه او علم ټوله دنیا قائله ده، د هجرت په (۱۵۰) کال وفات شوی دی(معجم الصفين ج: ۲ ص: ۳).

۴ـ علي بن مجاهد بن المسلم الكابولي: دا هم د کابل د فتح څخه وروسته د بندي په څېر مدینې ته وړل شوی، وروسته مسلمان، د فقه علم یې ترلاسه او بیا د امام صاحب د نیژدې ملګرو څخه وګرځېده، او د امام احمد بن حنبل رحمه الله استاد پاتې شوی دی، د هجرت په (۱۸۰) کال وفات شوی دی.

## د حنفي فقه ځینې نور علماء او فقهاء چې د مختلفو سیمو څخه دي

۱ـ أبو سليمان الجوزجاني: نوموړی د حنفي فقه ستر عالم او فقیه و، په جوزجان کې پیدا او همالته را لوی شوی دی، نوموړی د امام محمد بن حسن الشيباني شاګرد و، د وخت خلیفه مامون الرشید ورته د قضاء منصب وړاندې کړ؛ خو ده رد کړ، د هجرت په (۲۸۰) کال وفات شوی دی(الجواهر المضيئة ص ۱۸۶).

۲ـ أبو العلاء الجزجاني: نوموړی د أبو منصور الماتريدي د زمانې عالم و، د أبو منصور الماتريدي څخه یې د فقه او کلام علمونه زده کړي دي.

۳ـ أبو الفتح عبدالرشيد بي أبي حنيفة: نوموړی په تخار کې پیدا شوی دی، ستر عالم او فقیه و، د الولوالجية په نامه یوه ستره فتاوه یې هم ولیکله، د هجرت په (۵۴۰) کال وفات شوی دی.

۴ـ أبو المظفر اسماعیل بن عدي الوري: وري په تخار کې یوه سیمه ده نوموړی په همدې سیمه کې پیدا شوی دی، نوموړی ستر عالم، فقیه او مفتي و، د فقه علم یې په بلخ او ماوراء النهر کې زده کړی و، د هجرت په (۵۴۰) کال وفات شوی دی(السمعاني ج: ۱۳ ص: ۳۲۲).

**نتیجه**

۱ـ أفغانستان ته اسلام د عثمان بن عفان (رضي الله عنه) د خلافت پر مهال په تمامه معنی راورسېده.

۲ـ د أفغانستان خلکو له لومړیو څخه د علومو په زده کړې پسې هلې ځلې کړي دي.

۳ـ د حنفي فقه زده کړه یې کړې ده او بیا یې په تدریس کې پوره ونډه اخیستې ده.

۴ـ د أفغانستان په ټولو سیمو کې حنفي فقه رائج او د خورا شهرت څخه برخمنه ده.

۵ـ د أفغانستان په مختلفو سیمو کې فقهاء تېر شوي او په دې برخه کې یې خپل خدمات جاري ساتلي دي.

۶ـ بلخ د فقهاؤ ستر مرکز وو، ډېرشمېر فقهاء پکې وو او همدا راز د فقهاؤ د نشر لپاره یې ډېرې هلې ځلې کړي دي.

۷ـ هرات، غزني، کابل او یو شمېر نورې سیمې د فقهاؤ لروونکې وې او د فقه په نشرولو کې یې پوره برخه اخیستې ده.

۸ـ د افغانستان خلک د فقه علم په طلب پسې مختلفو سیمو ته تللي دي.

**پایله**

د افغانستان د مختلفو سیمو د فتحې لړۍ د عمر فاروق (رضي الله عنه) د خلافت پر مهال پیل شوه، او دې لړۍ پراختیا د عثمان بن عفان (رضي الله عنه)د خلافت پر مهال پیدا کړه، وروسته له دې چې د افغانستان خلکو اسلام قبول کړ، ورسره هممهال د نورو علومو د

زده کړې سربېره د فقهي د علم زده کړه هم پیل شوه، د اسلام په لومړیو کې د فقه علم په افغانستان کې د عربي علماؤ له خوا تدریس کېده، خو وروسته بیا أفغانانو په مکه، مدینه، بصره او کوفه کې یاد علم زده او په راستنېدو سره سم یې په افغانستان کې په تدریس پیل وکړ، دوی ټولو خپل مسؤلیت په غوره شکل آداء کړ، چې له لارې یې مختلف خلك د علم په ګاڼه سمبال شوه، وروسته ددې لپاره لویې لویې مدرسې رامنځته شوې او بیا لوي لوی مراکز جوړ شوه تر څو د نورو علومو سربېره پکې د فقه علم تدریس شي.

مونږ دا ویلای شو چې د اسلام په راتګ سره په افغانستان کې د ټولو مذاهبو فقهي درسونه پیل شول؛ خو د درس او تدریس په نتیجه کې حنفي مذهب په ټولو سیمو کې خپور او نشر شو، د همدې په نتیجه کې حنفي علماء راوټوکېدل.

دا چې د امام صاحب پلار او نیکونه افغانستان ته منسوب کیږي ډېرو هغو خلکو چې د فقه علم زده کړه یې موخه وه په امام صاحب پسې ورغله او له هغه یې زده کړې وکړې، ددې په نتیجه کې هم حنفي فقه په افغانستان کې نشر شوه، د أفغاستان خاوره د فقه او فقهاؤ په لوی مرکز بدله شوه، له همدې امله یې بلخ ته دارالفقهاء اودارالفقه وایه.

**وړاندیزونه**

۱. د پوهنتون استادانو، لیکوالانو او ژباړونکو ته مې وړاندیز دا دی چې د أفغانستان د هغو علماؤ او فقهاؤ په رابطه کتابونه ولیکي چې د فقه په برخه کې یې خدمات ترسره کړي.

۲. دولت ته مې وړانیز دا دی چې ددې فقهاؤ د ژوند لیکونو په نشرولوکې خپله ونډه واخلي.

۳ـ عامو وګړو ته مې وړاندیز دادی چې ددې فقهاؤ اوعلماؤ د ژوند څخه ځانونه خبر او د خپلې لارې مشعل يې وګرځوي.

**مأخذونه**

ابن عساكر، تاريخ دمشق، الناشر: دارالكتب العلمية، الطبعة: الثانية ۲۰۰۳ م.

أبو بكر عبدالله بن عمر بن محمد بن داؤد، فضائل بلخ، الناشر: دارالكتب العلمية ۲۰۰۹ م.

أبو عبدالله محمد بن أحمد المقدسي، أحسن التقاسيم في معرفة الأقاليم ۱۹۹۱م.

أبو عمر منهاج الدين عثمان بن سراج الدين الجرجاني الناشر: دارالكتب لبنان. (طبقات ناصري ۱۹۶۴ م.

الجرجاني سيد شريف علي بن محمد بن علي الجرجاني التعريفات ـ ۱۹۸۵).

خليل بن عبدالله، بن ابراهيم بن خليل أبو يعلي(الارشاد في معرفة علماء الحديث ۱۹۸۹ م.

الذهبي، ابن حجر العسقلاني تاريخ الاسلام الناشر: دارالكتب العلمية، الطبعة الثالثة ۱۳۳۴ هـ .

القرشي ايمان بنت سعود بن خشاني، الحياة العلمية في بلخ، الناشر: جامعة أم القرى ۲۰۳۳ م.

القرشي، الجواهر المضيئة، الناشر: دارالكتب المصرية، الطبعة الثانية، ۱۹۸۵ م.

المحبي، محمد أمبين بن فضل الله بن محب الدين بن محمد ۱۷۰۰ م.

محمد بن حبان، الثقات، دارالکتب العلمیة، بیروت، الطبعة الثانیة، ۲۰۰۶ م .

محمد بن علي بن محمد بن عبدالله الشوکاني، البدر الطالع بمحاسن من بعد القرن السابع، دارالمعارف بیروت ۱۳۳۸ هـ .

محمد عبدالحی الکتاني، نظام الحکومة النبویة المسمی التراتیب الاداریة ۲۰۰۵ م.

المدرس عبداللطیف محمد بن عبدالکریم بن محمد محروس، مسائل محددة لعلماء بلخ ۱۹۷۹ م.